# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته نامه آبـادی

گڼــه: ۱۲ | مسلسل نمبر: ۱۰۲ | چهارشنبه، د ذوالحجې ۲۸مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال




## د افغانســـتان اسلامـــي امـــارت اقتصادي پاليسي تاييد شوه



۲ صفحه

## د سټنډرډ عالي شورا د نفتي توکو په برخه کې ۵۷ سټنډرډونه او ازمايښتي کړنلارې تصويب کړې



۲ مه صفحه

## د غصب شويو ځمکو استرداد؛ نږدې څلور ميليون جريبه غصب شوې ځمکه بېرته راگرځول شوې ده



۵مه صفحه



## سرليکنه

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ســـټنډرډ عالي شورا ځلورمـــه فوق‌العاده غونـــډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او د نفتـــي توکو پـــه برخه کې يې ۵۷ ســـټنډرډونه او ازمايښـــتي کړنلارې تصويب کړې. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال په غونډه کې وويل، په هېواد کې د اقتصادي ثبات او د عامـــو هېوادوالو د روغتيا خوندي ســـاتلو په موخه اسلامي امارت د بې‌کيفيته وارداتو د کنټرول لپاره يولړ مهم او گټور گامونه پورته کړي دي. دا هڅې نه يوازې د داخلي بازار کيفيت ته وده ورکوي، بلکې د مصرفوونکو  باور هم پياوړی کوي.

ســـټنډرډونه د محصولاتو، خدماتو او پروسو لپاره ټاکل شوي کيفيتي او تخنيکي معيارونه دي، چې د سوداگرۍ او اقتصاد په وده او پايدارۍ او دغه راز له نړيوالو بازارونو سره د اړيکو په پراختيا کې مهم رول لوبوي. د منل شويو ســـټنډرډونو پلي کول د محصولاتو کيفيـــت لوړوي، د ترانزيټـــي لارو مؤثريت زياتوي او د اقتصادي پرمختگ لپاره نـــوي فرصتونه رامنځته کوي. د دې موخې لپاره، د زيربناوو پراختيا، د تخنيکي وړتياوو لـــوړول او د نړيوالو همکاريـــو زياتول اړين دي. دغـــه راز په يو هېواد کې د سټنډرډونو موجوديت د وارداتو او توليداتو له پاره ډېر مهم دي. سټنډرډونه د اوږد مهاله پرمختگ، اقتصادي گټو، معياري خدماتو وړاندې کولو، پر حکومت د خلکو باور او د روغتيايي او چاپېريالي خونديتوب رامنځته کولو کې هم مهـــم رول لري. ســـټنډرډونه په ټيکنالـــوژۍ، صنعت، ساينس، اداره او مديريتي برخه کې کيفيت تضمينوي او ښه والي سبب يې گرځي. که چېرې موږ سټنډرډونه و نه لرو او يا د وضع شـــويو ســـټنډرډونو مطابـــق واردات او توليدات و نه لرو، نو ټولنه به مو له گڼو ســـتونزو سره مخ شي. نـــو په کار ده چې د خپلو توليداتـــو د صادرولو او د باکيفيته وارداتو له پاره سټنډرډونه ولرو.

اسلامي امارت هم دا اړتيا احســـاس کړې او په همدې موخه يې د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا جوړه کړه، چې د سټنډرډ ملي ادارې له لوري جوړ شوي ســـټنډرډونه منظوروي. تر دې مهاله د خوراکي توکو، طبي وسايلو، کيمياوي موادو، کانونو، نساجي، برېښنايي وسايلو او داسې نورو برخو کې لسگونه سټنډرډونه جوړ او منظور شوي دي. د ســـټنډرډ عالي شورا په فوق العاده غونډه کې د نفتي توکو په برخه کې شـــپږ سټنډرډونه او ۵۱ ازمايښتي کړنلارې تصويب شوې.

د دې سټنډرډونو په عملي کېدو سره به د هېواد توليدات په کور د ننه او بهر کې بازار پيدا کړي او په دې سره به د صنعت او کرنې ســـکټورونو د پرمختـــگ ترڅنگ زموږ سوداگري پراخه او د هېوادوالو باور به ترلاسه شي. دغه راز به هېواد ته د بې کيفيته توکو واردات تر زياتې کچې ټيټ او پر ځای به يې باکيفيته واردات ترسره شي. له دې سره به اقتصادي وده گړندۍ او هېواد به په بېلا بېلو برخو کې د ځان بسياينې او باکيفيته توليداتو د توليد جوگه شي.

## د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي تاييد شوه



د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شـــوه. غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سرطان مياشـــتې په لومـــړۍ نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي د بحث لپاره وړاندې شوه چې له هراړخيزې ارزونې وروسته تاييد شوه. د يادې پـاليسي ليدلورى (پر اسلامي اقتصـــادي نظام ولاړ پرمختللى او ســـوکاله افغانســـتان) او موخې يې (د پانګونې د جذب او پراختيا لپاره د مناســـب چاپېريال رامنځته کول؛ د کورنيو توليداتو او صادراتو زياتول؛ د اشـــتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمـــول؛ پايداره اقتصادي پراختيا او وده؛ د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او اسلامي ټولنيز عدالت ټينګښت) دي. اقتصادي پاليسي به د هېواد د اقتصـــادي فعاليتونو په همغږي کولـــو، له منابعو ګټـــه د غوره ګټې اخيســـتنې او د خصـــوصي ســـکتور د ملاتړ په برخه کـــې مهم رول ولري. په غونډه کې له برېښـــنا شرکت څخه وغوښتل شـــول چې د بغلان ولايت د مرکز پلخمرۍ اړوند ۱۳ کليو ته د برېښنا شبکې غځولو پروژې پاتې چارې دې د همـــدې شرکـــت لـــه داخلي بوديجـــې تمويل او بشپړې شي.

د غونډې په پاى کې په بلخ ولايت کې د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي ســـکتور د اته پوړيز ســـوداګريز مارکېټ جوړولو لپاره ۷۴۰ ميليونه افغانۍ پانګونه کوي چې ټولټال به ۸۷۸ دوکانونه ولـــري. همدارنګه په سرپـــل ولايت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه هم تاييد شـــوه. د دې طرحـــې له مخې به خصوصي ســـکتور د معياري سوداګريز مارکېټ جوړولو لپاره ۹۶ ميليـــون افغانـــۍ پانګونه کـــوي. پورتـــه تصاميم د منظورۍ په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب دفتر ته واستول شول

## د ستنډرډ عالي شـــورا د نفتي توکو په برخه کې ۵۷ ستنډرډونه او ازمايښتي کړنلارې تصويب کړې

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ســـتنډرډ عالي شورا څلورمه فوق‌العاده غونـــډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشـــتې په ۳۱مه نېټه پـــه مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه.

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند وويـــل، دا فوق‌العاده غونډه د عاليقدر اميرالمؤمنين شـــيخ صاحـــب د دې حکم پر بنسټ چې: «ستنډرډ ملي اداره او د بې کيفيته تېلو د مخنيوي هيئت په ګډه افغانستان ته د وارديدونکو تېلو لپاره په لسو کاري ورځو کې نوى نورم جوړ کړئ او مورږ ته يې راولېږئ.» جوړه شوې ده.

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال زياته کړه، په هېواد کـــې د اقتصادي ثبات او د عامـــو هېوادوالو د روغتيا خوندي ســـاتلو په موخـــه اسلامي امارت د بې کيفيته وارداتو د کنټرول لپاره يولړ مهم او ګټور ګامونه پورته کـــړي دي. دا هڅې نه يـــوازې د داخلي بازار کيفيت ته وده ورکوي، بلکې د مصرف کوونکو باور هم پياوړى کوي.

محترم ملا صاحب د معيار او کيفيت ارزښت ته په اشـــارې سره وويل، اقتصادي ثبات ته د رسېدو او پر ځان بســـيا افغانســـتان لپاره معيار او کيفيت بنسټيز ارزښـــتونه دي. معيـــاري کول نه يـــوازې د صنعت، سوداګرۍ، کرنې او توليداتو د کيفيت تضمين کوي؛ بلکې دا د صادراتو زياتولو، د مصرف کوونکو د حقوقو خونديتوب او نړيوالـــو بازارونو ته د لاسرسي لپاره يوه حياتي اړتيا ده.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال پـــه خبره، د افغانســـتان اسلامي امارت د ســـتنډرډ عالي شورا له لارې هڅه کړې چې د هـــېواد په کچه د معيارونو په برخه کې منظمې پاليسۍ جوړې او يو همغږى، شفاف او د اعتبار وړ سيستم رامنځته کړي، څو د هېواد ټول سکټورونه ترې ګټه واخلي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سټنډرډونو د تطبیق کمېټې ته سپارښتنه وکړه، څو د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصویب شوي سټنډرډونه او د ازمایښت کړنلارې په



بــه ډول تطبیق کړي. همداراز خصوصي سکتور ته هم سپارښتنه وشوه، څو په خپلو تولیداتو او وارداتو کې معیارونو او د سټنډرډ عالي شـورا له لوري د تصویب شوو سټنډرډونو تطبیق ته جدي پاملرنه وکړي او خپل راپور دې د ریاســت‌الوزراء له اقتصادي معاونیت سره شریکوي.

د سټنډرډ عالي شـورا په نننۍ فوق‌العاده غونډه کې د نفتــي توکو پــه برخه کې شـپږ ســټنډرډونه او ۵۱ ازمایښـــتي کړنلارې تصویب شوې. دغه سټنډرډونه د ډیزلو، پټرولو، مایع ګاز او پایدار کاندنسات ګاز اړوند دي، چــې تصویب یې د نفتي توکو د کیفیت د لوړولو په لور مهم ګام بلل کېږي.

## اخبــــار اقتصـــادی هفـــته

### صادرات میوه خشک افغانستان با بسته ماندن بندر واگه در خطر است

مسدود ماندن بندر واگه، یکی از مسیرهای کلیدی صادراتی افغانســتان به هند، نگرانی صادرکنندگان میـوه خشـک را برانگیختـه اسـت. اتحادیـه صادرکنندگان میوه خشـک گفته اسـت که توقف رفت‌وآمد موترهای باربری از این مسیر، صادرات میوه خشــک و تازه را با کاهش چشـم‌گیر روبه‌رو خواهد کرد. این اتحادیه از مقام‌های پاکســتان و هند می‌خواهد تا زمینه بازگشـایی دایمی این مسیر را برای موترهای باربری افغانســتان فراهم کنند. خالد رحمانی سخن‌گوی اتحادیه صادرکنندگان



میوه خشک کابل در این باره گفت: «امید است که در آینده نزدیک شــاهد گشــایش مسیرهای بدیل بــرای بندرهای واگـه و چابهار باشـیم. اتحادیه صادرکنندگان میوه خشـک کابل با در نظرداشـت شرایط سیاسی و تجارتی اخیر میان پاکستان و هند پیشبینی می‌کند که سطح صادرات به این دو کشور کاهش خواهد یافت.» بنـدر واگه پس از کاهش تنش‌های نظامی میان هند و پاکستان تنها یک‌بار، در نهم ماه "می" سال روان برای عبور حدود ۱۶۲ موتر باز شد و دوباره بسته شد. اکنون دست‌کم ۱۲ موتر حامـل کالاهای صادراتــی افغان‌ها در این مسـیر متوقـف مانده‌اند. با نزدیک شـدن فصل برداشــت میوه تازه، برخی بازرگانــان ابراز نگرانی کرده‌اند که بسته بودن این مسیر می‌تواند صادرات محصولات افغانستان را با چالش‌های جدی روبه‌رو کنـد. ایـن بازرگانـان خواهـان گفت‌وگوها از مجراهای دیپلماتیک برای بازگشــایی این مسـیر مهم بازرگانی اند.

## کار ساخت چهار سب‌ستیشن جدید برق در هرات ۹۵ درصد پیش رفته‌است

مسؤلین محلی در هرات می‌گویند که کار ساخت چهار سب‌استیشن برق در چهار ولسوالی این ولایت پیشرفت ۹۵ درصدی داشته که با تکمیل کار این پروژه بیش از ۴۰ هزار خانواده به برق دسترسی پیدا خواهند کرد. مفتی محمدیوسف سعیدی، سخنگوی مقام ولایت در صحبت با رسانه‌ها گفت که کار ساخت چهار سب‌ستیشن برق در ولسوالی‌های چشت شریف، اوبه، پشتون زرغون و کرخ این ولایت ۹۵ درصد پیش رفته‌است. موصوف افزود که این پروژه با ظرفیت ۴۰ میگابایت به هدف رفع چالش‌های کمبود برق و بهبود کیفیت زنده‌گی ساکنان مناطق یادشده از سوی شرکت برشنا در حال تطبیق است.



## د چین په یو نندارتون کې افغاني محصولات نندارې ته وړاندې شوي

د چين - سويلي اسيا نهم نړۍوال نندارتون کې چې دغه هېواد په کومنينګ ښار کې پرانيستل شو، افغان سوداګرو په ۸۸ غرفو کې د غاليو، لاسي صنايعو، وچې مېوې او زعفرانو په ګډون خپل بېلابېل محصولات نندارې ته وړاندې کړي دي. دغه نندارتون کې د نړۍ له ۵۴ هېوادونو ۱۴ سوه شرکتونو ګډون کړی. بل خوا، د افغانستان د غاليو توليدوونکو او صادرونکو ټولنه دغه نندارتون نړۍوالو بازارونو ته د کورنيو توليداتو په تېره بيا د غاليو د ور پېژندلو او له بهرنيو سوداګرو سره د اړيکو جوړولو په برخه کې يو غوره فرصت بولي.



## د افغانستان بانک: د اسعارو لیلام له مرکز څخه زونونو ته هم غځول کېږي

د افغانستان بانک په يوه اعلاميه کې ويلي، د دغه بانک د لومړي مرستيال صديق‌الله خالد او د سرتاسري صرافانو د ټولنې د استازو تر منځ لیدنه کې د ستونزو، حل‌لارو، په زونونو کې د اسعارو د لیلام د بهير د پيل او د داوطلبۍ (بولۍ) بهير په اړه خبرې وشوې. ښاغلي خالد په دغه غونډه کې د بولۍ د طرحې د تطبيق په اړه ويلي چې دا طرحه د چارو د ښه تنظيم او د فعاليتونو د ميکانيزه کېدو لپاره جوړه شوې، څو بازار په منظم ډول مديريت شي. د افغانستان بانک مرستيال دا هم ويلي چې د اسعارو د ليلام بهير به له مرکز څخه زونونو ته وغځول شي، څو د بازار د اړتياوو په رڼا کې روڼتيا او اغېزمنتيا ته لا زياته پاملرنه وشي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلــو په برخـه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامـه آبـادی

# د غصب شويو ځمکو استرداد؛

## نيژدې څلور ميليون جريبه غصب شوې ځمکه بېرته راګرځول شوې ده

نجيب الله مايار



### سريزه

د دولتي ځمکو غصب په افغانستان کې اوږد مهاله ستونزه ده. دا ستونزه د کابل په تېره اداره کې پراخه او جدي شوه او د افغانســتان په مرکز او ټولو ولايتونو کې د تنظيمي مشرانــو، قوماندانو، محلي او نــورو زورواکانو د خپل وس مطابق په يوه او بل نامه ځمکــې غصب کړې او کورونه، مارکيټونه او ښارګوټي يې پرې جوړ کړل. په دې موده کې ډېرې دولتي ځمکې د زورواکانو له خوا غصب شوې چې د مرکــزي حکومت د کمزورتيا او په هغــه کې د زورواکانو د نفوذ او رسوخ له امله نه يوازې حکومت د دولتي ملکيتونو د ساتنې او له زورواکانو څخه د ژغورلو په لاره کې څه نشواى کولای، بلکې ډېرو زورواکانو لــه دولتي امکاناتو څخه په اســتفادې دولتي ملکيتونه غصبول او همدا ځمکې يې په غيــر قانوني ډول په نــورو خلکو پلورلې. پــه هيواد کې د اسلامي امــارت په بيا واکمنېدو سره نــه يوازې د امارتي ملکيتونو د غصب چاره و دربده، بلکې د هغه دولتي ځمکو او ملکيتونو د بېرته راګرځولو په موخه ځانګړی کميســيون ايجاد شو، ترڅو غصب شوې شخصي او دولتي ځمکې له زورواکانــو او غاصبينو را وګرځول شي. په دې ليکنه کې د دولتــي ځمکو د غصب د مخنيوي پــه لاره کې د اسلامي امارت اقداماتو ته لنډه کتنه کوو:

### افغانستان کې د ځمکو غصب

د ځمکــو غصب د ځمکو غير قانوني تصرف ته وايي چې د دولت، عامه بنســټونو او په ځينو مواردو کې د حقيقي او حقوقي افــرادو ملکيت وي. دا تصرف کيدای شي د زورواکانو، دولتي چارواکو، ســيمه ييزو قوماندانانو او يا حتی غير دولتي بنســټونو له خوا وشي. د ځمکو د غصب لاملونــه بېلابېــل کيدای شي، خــو هغه څــه چې په افغانســتان کې يــې د ځمکو په غصب کــې ډېر رول درلودلــی دی په تېرو حکومتونو کې د حقوقي او قضايي نظام کمزورتيا، په دولتي بنسټونو کې فساد، د ملکيتونو د ثبت د اغېزناک سيســتم نشــتوالی، کډوالي او داخلي بېځايه کېدل، او پــه دولت کې د زورواکانو او غاصبينو قدرت او نور يــاد کړو. د افغانســتان اسلامي امارت د دولتــي ځمکو او ملکيتونــو د تثبيت او له غصب څخه د مخنيوي په موخه يو ځانګړی امارتي کميسيون ايجاد کړ؛ ترڅو د هېــواد په مرکز او ولايتونــو کې ټولې هغه ځمکې تثبيت کړي چې د زورواکانو له خوا نيول شــوې او نــوې ودانۍ پرې جوړې شــوې دي. د افغانســتان اسلامي امارت د ۱۴۰۱ کال د تلې مياشــتې په ۳۰ مه د ځمکو د غصــب د مخنيوي او د غصب شــويو ځمکو د استرداد مقرره په څلورو فصلونو او ۲۱ مادو کې توشيح کــړه او همدا راز په ۹ مادو کــې يې د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب شــويو ځمکو د استرداد کميســيون لايحه هم منظور کــړه. د دغه مقررې له مخې ځانګړی کميســيون ايجاد او خپل کار يې پيل کړ.

### د غصب شويو ځمکو راګرځول

د غصب شــويو ځمکــو د راګرځولو او غصــب د مخنيوي کميســيون د هېواد په کچه د ترسره شويو اقداماتو په ترڅ کې تر اوسه ميليونونه جريبه دولتي ځمکې له غصب څخه را وګرځولې. دغــه کميســيون د روان کال د ذوالقعدې مياشتې په ديارلسمه نيټه په يوه خبري کنفرانس کې وويل چې د افغانستان اسلامي امارت د امارتي ځمکې په تثبيت او له غصب څخه خلاصولو کې جدي کار ته ژمن دی او په همدې موخه دغه کميســيون په مرکز او ولايتونو کې خپل کار ته دوام ورکــړی دی. د غصب شــويو ځمکو د بېرته راګرځولو او مخنيوي کميسيون تر اوسه ۳ ميليونه او ۹۳۰ زره او ۹۳۳ جريبه امــارتي ځمکه په ټول هېواد کې تثبيت کــړې او له غاصبينو يې را ګرځولــې دي. په دې موده کې دغه راز له ۴۹ ميليون جريبو ډېره نوره امارتي ځمکه په ټول هېــواد کې امارتي تثبيت شــوې ده. د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت معين او د دغه کميســيون غړي مولوی محمد اسماعيــل غزنوي د ځمکــو د غصــب اصلي لاملونه څو لســيزې اشغال او ملوک الطوايفي واکمنۍ وبللې او ټينګار يې وکړ چې نور دا دوران تېر شوی او امارتي ځمکې به له غاصبانو او زورواکانو بېرته راګرځوي. د غصب شويو ځمکو د راګرځولو کميسيون مسوولين وايي چې په دې موده کې يوازې په کابل کې څه د پاسه ٦٦ زره او ۷۲۴ جريبه امارتي ځمکه له غاصبينو را ګرځول شــوې ده. د عدليې وزارت د خپرو کړيو شــمېرو له مخې دا ځمکه د کابل ښار د اتمې ناحيې پــه مرنجان غونډۍ، د اومــې ناحيې په ده کيپک غونډۍ، د شــلمې نا حيــې په چهل دختران ســيمه، د يوويشتمې ناحيې په پلچرخي سيمه، د پغمان ولسوالۍ او کابــل په نورو ســيمو کــې موقعيت لري چــې د مرکزي کميســيون د تخنيکي پلاوي د پرېکړې او يا غصب شويو امارتي ځمکو ته د رسيدنې د ځانګړې محکمې د فيصلې په پايله کې له غصبه خلاصه او را ګرځول شوې ده. د عدليې وزارت وايي، د امارتي ځمکو د غصب مخنيوی او د غصب شويو ځمکو بېرته راګرځول د اسلامي امارت له اهدافو

ځخه دي. د غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون په همدې موخه جوړ شوی دی. د دغه کميسيون دنده داده چې اماراتي ځمکې( سلطانی)، عامه او وقفي ځمکې له غاصبانو او زور واکانو را وگرځوي او دا لړۍ په ټول هېواد کې روانه ده. د ځمکو د غصب د مخنيوي کميسيون د هېواد په ځلورو زونونو کې ځلور محکمې لري، همدا رنگه په هر ولايت کې د غصب شويو ځمکو د تثبيت او تشخيص تخنيکي پلاوی د همدې موخو د لاس ته راوړولو لپاره کار کوي. د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت مسوولين وايي، د اماراتي ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د بېرته راگرځولو تخنيکي ټيمونه په هر ولايت کې د ځمکو تشخيص، تثبيت په اړه له محلي مسوولينو او قومي مخورو سره خبرې کوي. له تثبيت وروسته له غصب ځخه را گرځول شوې ځمکې د قانون په رڼا کې په اجاره ورکول کېږي. د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت مسوولينو دا هم ويلي، پخوا د غاصبينو له خوا غصب شوې ځمکې د نورو مقاصدو په پار استفادې کيدې؛ خو د اسلامي امارت له لوري له راگرځېدو وروسته اوس ددې ځمکو ډېره برخه کرل شوې ده. د دغه کميسيون د خپرو کړيو شمېرو له مخې په ټول هېواد کې شاوخوا ۲٦ ميليون جريبه ځمکه غصب شوې ده. د غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون مسوولين وايي چې د اماراتي ځمکې ترځنگ په ډېرو ولايتونو کې څرځايونه هم غصب شوي دي. اسلامي امارت دا گام د مالدارانو د ملاتړ په موخه ترسره کړی او هڅه کوي چې څرځايونه له غصبه خلاص او د مالدارانو په واک کې يې ورکړي. د افغانستان اسلامي امارت د ځمکو د غوره مديريت په موخه د يوه نوي وزارت د جوړولو پرېکړه کړې ده چې د دغه وزارت په جوړېدو سره به ځمکې ټولې ثبت، تثبيت او له غاصبانو به را وگرځول شي او د بيا غصب د مخنيوي په موخه به يې هم کارنده لارې چارې په پام کې ونيول شي. د اسلامي امارت په تشکيل کې به دغه وزارت په نږدې راتلونکې کې په عملي ډول کار پيل کړي او تر هغه وخته به د ځمکو د غصب د مخنيوي اماراتي کميسيون خپل کار ته دوام ورکوي. د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون دا مسوول وايي دا وزارت به د اراضي او غصب شويو ځمکو د را گرځولو وزارت په نوم جوړ شي او د دغه وزارت د ټولو اړوندو قوانينو د تدوين چارې بشپړې شوې دي.

## پايله

د اماراتي ځمکو غصب د افغانستان د اقتصادي ثبات او ودې په لاره کې يوه ستونزه ده چې د هېواد په ډېرو سيمو کې دغه ځمکې غصب شوې او د ښاري پلانونو خلاف په نورو کارونو کې ترې کار اخيستل شوی دی. بلخوا ډېرې دولتي ځمکې له غصب وروسته لاس په لاس شوې چې له شک پرته پکې په ميليونونو افغانۍ پانگونه هم شوې ده چې تر خېرنو وروسته دولتي ځمکه ثابته شوې ده. د افغانستان اسلامي امارت له تېرو څو کلونو را په دېخوا د همدې ستونزې د حل په موخه ځانگړی کميسيون جوړ کړی او په مرکز او ولايتونو کې خپل کار ته دوام ورکوي. اسلامي امارت په دې موده کې نږدې ځلور ميليونه جريبه ځمکه له غصبه راگرځولې ده. د ځمکو د غصب مخنيوي او پر وړاندې يې مبارزه له شک پرته سياسي هوډ، غښتلې اراده او د حکومتي او غير حکومتي بنسټونو پراخې همکارۍ ته اړتيا لري چې اسلامي امارت په دې برخه کې کلک هوډ لري. د دې له پاره چې په راتلونکې کې دا ستونزه دوام ونه کړي، ټولې دولتي ځمکې ثبت او وساتل شي. اسلامي امارت وايي د ځمکو د ثبت، ساتنې او ښاري پلانونو ته په پام سره د ځمکې د موثرې کارونې په موخه ځانگړی وزارت جوړوي چې د قوانينو په برخه کې يې کارونه تر ډېره مخ ته تللي دي. د دغه وزارت په جوړېدو سره به د هېواد په کچه د ځمکو بانک رامنځ ته شي چې د ښاري پراختيا او نورو پرمختيايي پروژو د تطبيق په موخه به حکومت ته کافي ځمکه په واک کې ورکړي، له بلې خوا به د ځمکې د پېر او پلور چارې هم قانوني شي چې د خلکو د پانگې او وخت د بې ځايه ضايع کېدو مخه به ونيول شي.



# EFFORTS OF THE ISLAMIC EMIRATE

## IN SIMPLIFYING ADMINISTRATIVE PROCEDURES

By: Najibullah Mayar

## Introduction

Simplifying administrative procedures within government institutions is a key issue that can lead to improved service delivery, reduced costs, increased client satisfaction, and the creation of operational efficiencies. One of the primary benefits of simplifying procedures is enhanced effectiveness and productivity in public administration. Many administrative processes are overly complex and time-consuming, which, instead of facilitating operations, results in the unnecessary consumption of employees' and citizens' time and energy. By streamlining these stages, time is saved, and human resources can be utilized more efficiently. Simplifying processes—particularly through digitization—leads to a reduction in

operational costs and accelerates the provision of public services. Governments and the private sector consistently seek to adopt mechanisms that not only ensure maximum transparency but also enable the completion of tasks within a shorter timeframe. In Afghanistan's public institutions, a longstanding issue has been the excessive bureaucratic burden faced by individuals seeking permits, licenses, and other official documents. Applicants often need to visit multiple offices and obtain dozens of signatures. This not only wastes the time of clients and relevant departments but also hinders transparency and paves the way for administrative corruption. Over the past three years, the Islamic Emirate of Afghanistan has initiated efforts to simplify, streamline, and make administrative procedures more transparent. In some areas, these processes have already been digitized. The following provides a brief overview of these efforts:

## Efforts of the Islamic Emirate in Simplifying Administrative Procedures

Technology is a phenomenon of the modern age that has undoubtedly influenced all aspects of human life. It has brought profound changes, turning previously impossible tasks into achievable ones, shortening lengthy processes, and modernizing traditional forms of work and education. One notable advantage of technology is e-governance, which plays a key role in streamlining lengthy procedures and completing tasks typically handled by large human workforces in less time and with fewer resources. E-governance is a modern system for delivering government services, utilizing information technology to ensure transparency, accountability, quick service delivery, and simplification of administrative operations. In Afghan government institutions, the process of acquiring documents and other procurement-related services involved numerous steps, which not only wasted the time of both citizens and government human resources but also increased administrative costs. Prolonged administrative procedures have been a major source of public dissatisfaction, particularly in the economic sector. Citizens reported having to visit multiple offices, collect numerous signatures, and spend several days circulating documents to obtain a work permit, pay taxes, or settle customs duties. In response to these challenges, the leadership of the Islamic Emirate of Afghanistan has undertaken efforts to simplify such complex processes. Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, has consistently stated in his remarks that the Islamic Emirate has simplified administrative procedures across various governmental departments. As a result, tasks that previously took days to complete are now accomplished within minutes in certain sectors.

To further ease public access, the efforts to streamline administrative procedures are ongoing. As part of these efforts, the General Directorate of Administrative Affairs, in coordination with the Independent Administrative Reform and Civil Service Commission, recently launched the initiative to simplify and standardize "procurement, financial, and administrative" support processes across Emirate institutions for the year 1404 SH.

During the launch ceremony, Deputy PM for Administrative Affairs Mawlawi Abdul Salam Hanafi emphasized that simplifying administrative procedures is a significant step forward and reiterated the Islamic Emirate's recognition of the need to reform certain complex procedures. Officials from the General Directorate of Administrative Affairs stated that many routine civil service processes were previously highly complicated, leading to considerable difficulties for citizens. However, the Islamic Emirate is committed to simplifying these processes and providing ease of access to the public. According to the Independent Administrative Reform and Civil Service Commission, notable progress has been made over the past three years, with 938 administrative procedures simplified across various ministries and agencies. The Commission, which comprises five distinct directorates, includes a dedicated unit responsible for simplifying administrative procedures based on identified needs across all ministries and government agencies. This process of simplification will continue, and the Commission plans to implement practical simplification of several previously assessed complex administrative procedures during the year 1404 SH. These reforms are expected to significantly ease processes and improve service delivery for citizens. Although Afghanistan does not have a long-standing tradition of e-governance, efforts have been made in this area in response to evolving needs. In some sectors, concrete steps have already been taken. Recently, the Islamic Emirate has further expanded and strengthened these initiatives. A brief overview of such efforts will follow.

## Facilitating Investment Procedures for the Public

Investment and licensing processes in the country have long been sluggish, with widespread complaints that administrative procedures are excessively lengthy and time-consuming. In response to this challenge, the Islamic Emirate established an Inter-Ministerial Investment Committee under the framework of the Deputy PM for Economic Affairs Office to expedite investment-related matters, enabling investors to complete necessary procedures more quickly and in one centralized location. To facilitate the investment process, and based on a special decree by the esteemed Amir al-Mu'minin (may Allah protect him), under the directive of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs and in accordance with Resolution No. 2 of the Economic Commission for the year 1445 Hijri, the Inter-Ministerial Investment Committee was officially formed and began its operations on September 16, 2023.

This committee operates under the framework of the Deputy PM for Economic Affairs Office, with the core objective of streamlining and accelerating the approval processes for both domestic and foreign investment projects under a unified structure. It aims to enhance transparency in investment procedures and establish effective coordination between investors and relevant ministries.

The committee comprises representatives from twenty ministries and government agencies and is mandated to create a favorable investment climate, ensure efficient management of investment-related tasks, accelerate and enhance transparency in investment procedures, improve coordination between Emirate institutions and the private sector; and provide necessary information to investors regarding investment projects in Afghanistan. Domestic and foreign investors may submit their investment proposals physically to the Secretariat of the Economic Commission at the Deputy PM for Economic Affairs Office. Proposals must include the following details:

- Title of the project;
- Name of the proposing investor/entity;
- Complete information about the investor (whether a natural or legal person), including company license, address, contact number, email, and legal representation documents;
- Project overview and objectives;
- Implementation strategy;
- Required budget and source of financing;
- Estimated duration for implementation and utilization.

In addition, investors can contact the committee via email at aiimc@dpmea.gov.af or by calling 0202100976.

## Electronic Procurement System (NPA)

To advance e-governance and improve financial management, the Islamic Emirate of Afghanistan has implemented modern electronic systems in customs offices and other government institutions. A key example of this is the Afghanistan Financial Management Information System (AFMIS) operated by the Ministry of Finance. AFMIS has recently been upgraded to enhance transparency, control, and effectiveness in managing, monitoring, and reporting financial activities. The Ministry reports that the new version of AFMIS addresses the previous system's limitations, such as slow performance, high operational costs, and technical restrictions. The original system, developed in 2002 by FreeBalance Inc., was fully controlled by the vendor. To overcome these challenges, the Ministry of Finance decided to develop an independent and advanced system that aligns with current needs and requirements. The updated system has been successfully piloted in 14 key ministries and 8 provincial finance departments, and it is capable of integrating with other financial platforms. This facilitates greater coordination and collaboration across Emirate institutions.

## Electronic Financial Systems

To facilitate trade for Afghan exporters, one-stop export centers have been established in the central cities of six regional zones to streamline the processing of export documentation. Most of these centers have been set up near the Chambers of Commerce and Investment to allow traders to complete the export procedures for commercial goods in a shorter timeframe. Several of these centers were established in the past in various provinces, and more recently, new centers have been opened in Balkh and Kunduz provinces. These centers are part of a broader reform initiative aimed at simplifying and facilitating the export documentation process. The Islamic Emirate remains committed to providing greater ease and support to traders and investors across the country.

## One-Stop Export Centers

Although the electronic national ID (e-Tazkira) distribution was initially launched by the National Statistics and Information Authority (NSIA) of Afghanistan, the process was slow and inefficient. Under the leadership of the Islamic Emirate, this process was significantly accelerated and expanded to provincial branches. To strengthen the system further, several key authorities—previously held solely by the central office—were delegated to provincial branches.

Since the inception of the e-Tazkira issuance process, NSIA has distributed more than 15 million and 18 thousand electronic national IDs, of which 9.067 million were issued to men and 5.952 million to women. Notably, 9 million of these IDs have been issued under the current administration of the Islamic Emirate.

Today, 73 distribution branches, including an Asan Khedmat mobile team and one operational center in the United Arab Emirates, are actively providing services.

## Expansion of the Electronic National ID (e-Tazkira) Distribution System

Simplifying administrative procedures in government institutions yields several key benefits: improved operational efficiency, reduced costs, and better time management. Many bureaucratic processes are overly complex and time-consuming, resulting in the loss of time and energy for both the public and government employees, rather than facilitating effective service delivery. In many cases, unnecessarily complicated and lengthy procedures create fertile ground for administrative corruption. When a process involves multiple layers of approvals and complex interactions, the likelihood of corruption increases. By eliminating redundant steps and simplifying workflows, these risks can be mitigated, leading to greater transparency in administrative operations. Streamlining procedures also plays a crucial role in accelerating services. Complex bureaucracy often causes public dissatisfaction, whereas simplified processes ensure that services reach people more quickly and accurately, thus enhancing service effectiveness. Lengthy and complicated administrative procedures typically increase costs, as tasks take longer and require more personnel to manage. Simplifying processes can significantly reduce unnecessary expenditures. Another major advantage of

simplification is the faster decision-making process. When procedures are complex and involve many stages, decisions are delayed, which is detrimental to both government efficiency and public interest. Simplified processes enable timely and effective decisions. As the world continues to evolve rapidly, governments must adapt accordingly. Complicated systems lack the flexibility needed to accommodate changes. In contrast, clear and simple procedures allow governments to effectively implement necessary reforms and respond to emerging conditions.

Moreover, simplification lays the groundwork for innovation and continuous improvement. Removing bureaucratic obstacles fosters new approaches and ongoing progress. Transparent, well-defined processes also enhance accountability and oversight, making it easier to monitor operations and reduce opportunities for fraud, abuse, or error. This enables the government to accurately evaluate its performance and strengthen public trust.

## Conclusion

Simplifying administrative procedures in public institutions is not only important for reducing complexity and costs but also plays a vital role in improving institutional performance and enhancing public satisfaction. Given these advantages, governments must consistently strive to streamline their administrative processes and make effective use of available resources.

Over the past three years, the Islamic Emirate of Afghanistan, recognizing the importance of this issue, has simplified numerous complex administrative procedures and continues its efforts to significantly increase the number of streamlined processes in the coming solar year. This will ensure both the efficient and effective utilization of government resources and help prevent the loss of time and confusion for the public.

Moreover, the use of technology in governance processes has become a critical necessity in the modern era. To align with global advancements, Afghanistan has already adopted and implemented technology in various sectors and continues to expand these efforts.

By embracing technology, workflows will be expedited, time wastage will be minimized, and maximum utilization of human resources will be achieved—further contributing to a more responsive, transparent, and efficient administrative system.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۷۰,٦٥؋ | ۷۰,۷۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداری | ۲۳۸؋ | ۲۳۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۷۷؋ | ۰,۷۸؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۸۱,۹۰؋ | ۸۱,۹٦؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۹۰؋ | ۰,۹۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۲۱؋ | ۸۲۲؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۹٦,۰٦؋ | ۹٦,۱۳؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۸۳؋ | ۱۸,۸٥؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲٤؋ | ۱۹,۲٥؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۸٤؋ | ۹,۸٥؋ |

